International Organization for Migration (IOM)
The UN Migration Agency

# ریسټارټ ۲ افغانستان او ایران  ته د ستنیدونکو لپاره د بیا میشته کیدنې پروګرام

## ریسټارټ ۲ په افغانستان او ایران کې نوی ژوند

د ریسټارټ د ا پروګرام د ۲۰۱۷ جنوري له لمړۍ نیټې څخه پیل او د ۲۰۱۹د  ډسمبر تر ۳۱ پوري دوام لري.
که تاسې غواړۍ په خپله خوښه افغانستان ته ستانه شئ نو آی او ایم کولی شي تاسې سره مرسته وکړي ترڅو نوی ژوند پیل کړئ.

### آی او ایم زما سره څنګه مرسته کولی شي؟

**آی او ایم کولی شي په لاندې شرایطو ستاسې د خپلې خوښې راستنیدنه کې مرسته وکړي.**

- دسفر څخه وړاندې د مالوماتو ورکول په اطریش کې.
- د ماشومانو لپاره د کورنۍ (البته په خپل هیواد کې) د حالت معلومول.
- د سفر برابرول، ټیکټ اخستل.
- د ویانا په نړیوال هوایی ډګر کې د سفر نه وړاندي د مالوماتو ورکول.
- د کابل په نړیوال هوایي ډګر او تهران کې د هرکلي مرسته . د اړتیا پر مهال، ستاسې تر وروستي تمځای پورې ترانسپورتي مرسته.
- د اړتیا پر مهال، تر راستنیدنې وروسته د دوه اونیو لپاره لنډمهاله هستوګنه.

آی او ایم کولی شي ستاسې په هیواد کې ستاسې د **بیامیشته کیدنې** سره په لاندې مواردو کې مرسته وکړي:



- **تر راستنیدنې وروسته مشوره:**  ستا د پوهې او مسلکي شالید پر بنسټ او ځایي حالت ته په کتو به تاته مالومات او مشوره درکول کیږي.
- **مالي مرسته:** د ۵۰۰ یورو نغدي مرسته به درسره ترسره شي ترڅو وکولی شې خپلې بیړنۍ اتیاوې پرې پوره کړې.
- **روغتیایي مرسته:** که یې چېرته ضرورت ؤ.
- **د کاروبار د پاره لارښود او د ټرننګ** وړیا ورکول کیږي.
- **نورې غېرې نغدي مرستې.**

ای او ایم کولی شي له لاندې ډولونو څخه په یوه ډول له تاسي سره د بیا میشته کیدنې مرسته وکړي، خوددې مرستو ټولټال باید له ۲۸۰۰ څخه زیات نشي.

- تعلیم [۲۸۰۰ یورو وروستی حد]
- د کوچني کاروبار پیلول (د وسایلو او محصولاتو اخیستل)، یا په کوم کاروبار کې شراکت [۲۵۰۰ یورو وروستی حد]
- هستوګنه (یوازې کرایه)۳۰۰ [یورو وروستی حد]
- د ماشومانو پاملرنې د پاره [۳۰۰ یورو وروستی حد]

د پورتنیو مرستو ګډول هم امکان لري لکه: ۲۵۰۰ یورو د کاروبار دپاره او ۳۰۰ یورو د پوهنې دپاره. یا  کولی شي چې ۱۰۰۰ یورو د پوهنې ، ۱۵۰۰ یورو د کاروبار او ۳۰۰ یورو د هستوګنځي د پاره استعال کړي.

په یاد ولرئ چې دغه غیر نغدي مرستې تاسې ته د پیسو په بڼه نه درکول کیږي بلکې دا به د خدمتونو وړاندې کونکو ته ورکول کیږي.

This project is co-financed by the Asylum, Migration and Integration Fund (AMIF) of the European Union and the Austrian Federal Ministry of the Interior.

BM.I REPUBLIC OF AUSTRIA
FEDERAL MINISTRY OF THE INTERIOR

International Organization for Migration (IOM)
The UN Migration Agency

## کولی شم په پروژه کې ګډون وکړم؟

پدې پروژه کې ددریمې نړۍ هغه خلک چې په خپله خوښه افغانستان او ایران ته ستنیږي کولی شي ګډون وکړي. او ستاسې مرستې باید د اطریش هیواد د کډوالۍ د فدرالې اداري لخوا تاید شي. د هرې کورنۍ څخه یو نفر کولی شي چې په پروژه کې برخه واخلي.



## مونږ څوک یو:

آی او ایم چې په ۱۹۵۱ کال کې تاسیس شوې یوه بین الدولتي اداره ده چې مرکزي دفتر یې په جینیوا کې دی او د نړۍ په کچه په کډوالۍ کې مخکښ رول لوبوي.

په ټوله نړۍ کې د خپلو دفترونو او پروژو په درلودلو آی او او ایم د خپلو نړیوالو ، ملي او ځایي شریکانو سره یو ځای د کډوالۍ اړوند بیلابیلو برخو کې کار کوي.

## څنګه کولی شم غوښتنپاڼه ورکړم؟

د اطریش په ټول هیواد کې مشوره ورکوونکي اداري د راستنیدنې د امکاناتو په اړه مالومات او مشورې ورکوي. کولی شئ د اړیکو جزئیات د آی او ایم په ویپاڼه کې موندلی شئ.www.iomvienna.at

ستاسې د راستنیدنې مشاور به تاسې سره د غوښتنلیک په ډکولو کې مرسته وکړي.

سربیره پردې، آی او ایم تاسې ته د پروژې او د بیامیشته کیدنې مرستو په اړه لانور مالومات درکوي.


د لازیاتو مالوماتو لپاره مهرباني وکړئ اړیکه ونیسئ

**د کډوالۍ نړیواله اداره (آی او ایم)**
Nibelungengasse 13/4
1010 Vienna
Austria

Tel: 0043/1/585 33 22 22
E-Mail: avrr.vienna@iom.int



This project is co-financed by the Asylum, Migration and Integration Fund (AMIF) of the European Union and the Austrian Federal Ministry of the Interior.


BM.I REPUBLIC OF AUSTRIA
FEDERAL MINISTRY OF THE INTERIOR